# د ملي پيوستون پروګرام
# (NSP)

## لرليد

د ملي پيوستون پروګرام چي دافغانستان اسلامي دولت دارزښتناکو او جوړونکو کړنلارو له نظره ملي او ځانګړي پروګرام دي د (۲۰۰۳) کال په نيمايي کي پيل شو . دغه پروګرام د منځ ته راتلو راهيسي د نړيوال بانک او نړيوالي پرمختيايي ټولني له ملاتړ څخه برخمن دي ، بنسټيزه موخه يي دبيلابيلو سيمه ايزو بنسټونو دجوړولو او عملي كولو له لاري دسيمي داوسيدونکو دبيوزلي او غريبي دکچي کښته کول دي دملي پيوستون پروګرام دافغانانو له دود او دستور سره سم وده کړي او له حشر يا ډله ايز کار دله ايزي تصميم نيوني له دود نه په ګټي اخيستني سره داسانتياو برابر ولو ديوالي ،برابري او اسلامي سپيڅلوارزښتنو پر بنسټ دستونځو داوارولو لپاره را منځته شويدي



د قالينو اوبدلو پروژه: کليوالو ښځوته د ګټي سرچينه

## دپروګرام اساسي اصول :

د ملي پيوستون پروګرام لومړني وسيله ده چه د ټولنيزو جوړښتونو يا د سيمه ايزو پرمختيايي شورا ګانو د جوړولو او پر پښو درولو له لارى غواړي د سيمي داوسيدونکودژوند کچه لوړه کړي تر څو کليوال دخپل ژوند په اړه پخپله تصميم ونيسي ، دکليوالي ټولنو پياوړتيا او په ډله ايزه توګه دکارونو تر سره کول دمصونيت په رامنځته کولو او ټينګولو کي مهم او ارزښتناک رول لري دغه پروګرام دټولو کليوالو په ځانګړي ډول دزيان منونکو اوبيوزلو خلکو ملاتړ کوي .



د کليوالي پرمختيايي شورا ټاکني: کليوال اوسيدونکي د ټاکنو په خپلواکه بهير کي ونډه اخلي

## هدفونه :

دملي پيوستون پروګرام هدف دادي چي د سيمه ايزواو پر خپلو متو ولاړوټولنو درامنځته کيدو لپاره ښه بنسټونه جوړ کړي او دهغو پروژو ملاتړ وکړي چي د توليدي او زير بنايي اسانتياو په رامنځته کولو کي اغيزه لري او د کليو ، باندو او خلکو په ژوند کي بدلون راولي .

## کاري تګلاره :

د ملي پيوستون پروګرام ديوي کميټي تر لارښوني لا ندي چي مشري يي دافغانستان داسلامي جمهوريت دويم مرستيال په غاړه لري او داړوندو وزارتونو استازي ،دمرستندويه هيوادونو استازي ( دناظر په توګه) ، د ملي پيوستون پروګرام اجرائيوي دايرکتر په کي ګډون لري دکاري مالي کړنو او پروګرامونو څارنه کوي . له دي پروګرام سره دنړيوالي ټولني د ملاتړ په غرض د اداري سلاکارانو ټيم مرسته کوي ملي پيوستون پروګرام چي دمرستندويه ټولنو په مرسته کلي سره يو ځاي کوي اودکليو په کچه دسيمه ايزو استازو درهبري ننګه کوي او س مهال د(۲۹) غير دولتي سازمانونو او دملګرو ملتونود استازي په همکاري او ملتيا کار کوي او (۳٤) ولايتونه يي تر پوښښ لاندي نيولي دي.



د کانال جوړولو پروژه: د زراعتي محصولاتو د کچي لوړونه

* د ملي پيوستون پروګرام په ځواکمنه توګه دپرمختيا لامل ګرځيدلي او کوښښ کوي کليوال وهڅوي څو په خپله مهمي او ارزښتناکي پريکړي وکړي اودپرمختيا په ټولو پراوونوکي برخه واخلي او له خپلو منابعو څخه ګټه پورته کړي. کلي دمرستندويه موسسويه مرسته خپل استازي او رهبري وټاکي او په آزاده توګه خپلي کليوالي پرمختيايي شوراګاني جوړي کړي.

د کليو پراختيايي شوراګاني به د مرستندويو موسسو په مرسته دکليو هغه پرمختيايي اړتياوي چي لومړيتوب لري په ګوته کړي دکليو پرمختيايي پلانونو ته به وده او پراختيا ورکړي او د کليو له اوسيدونکو سره به يوځاي د پروژو د نوښت نه ډک پلانونه طرح او جوړ کړي .



د کليوالي پرمختيايي شورا کنفرانس: د همکاري او همغږي را منځته کول

د کليو پراختيايي شوراګاني دنده لري چي دسيمي شته اومنابع يو موټي کړي او خپل مالي امکانات چي د ملي پيوستون پروګرام له خوا هر کلي ته ۲۷۰۰۰امريکايي دالره د پرمختيايي پلانونو لپاره مرسته کيږی په ښه توګه ولګوي کليوالي پرمختيايي شوراګاني دپروژو او دکار دتولو پړاونو مسوليت په غاړه لري کليوال رهبري کوي تر څو پروژي په سمه توګه پلي کړي .

## دملي پيوستون لاس ته راوړني :

**دپروګرام پو ښښونه :**

دملي پيوستون پروګرام( ۲۰۰۹) کال د فبروری تر (18) نيټي پوري ټولي (359) ولسوالي د هيواد په (۳٤) ولايتونو کي تر خپل پوښښ لاندي راوستي دي .

## دپراختيايي شوراګانو ټاکني او روزنه :

- د( 2009) کال د فبروری تر (18) نيټي پوري د کليو(21777) پراختيايي شوراګاني دازادو انتخاباتو له لاري منځ ته راغلي دي دټولو کليو ښځو او نارينه وو پدغو انتخاباتو کي برخه اخيستي وه دکليودپراختيايي شوراګانو روزني، مخکي لدينه چه په انتخاباتو کي برخه واخلي د خلکوبرخه اخيستنی د پراختيايي پلانونو په اغيزمنتوب کي دير ښه رول لوبولي دي .

د فبروری د مياشتي تر (18) پوري (21605) پراختيايي شوراګانو د خپلو پروژو پراختيايي پلانونه طرح کړي دي.

## د پيسو وجه:

- د(۲۰۰۹) کال د مارچ تر (5) نيټي پوري د ټولو (578800291)وعده شوو دالرو څخه (572855559) دالره د (19426) پروژو لپاره ورکړل شويدي .

## په کليو کي په پروژو باندي سرته رسيدلي کار :



د ښځو د اوبو پروژه: د ښځو پاکو اوبو ته د کليوالو اوسيدونکو لاسرسي

- د هغه لومړيتوبونو په نظرکي نيولو سره چه کليو هغه د خپلو لومړيتوبونو په توګه ټاکلي ملي پيوستون پروګرام د (۲۰۰۹) کال د مارچ تر (5) نيټي پوري ( 40930) پروژي منظوري کړيدي دغه پروژي د اوبو لګولو د تاسيساتو ، سړک او پلونو، ښوونځيو ، د اوبو رسولو د شبکو ، کلينيکونو ، عايداتي پروژو او روزنيزو مسلکي پروژو څخه عبارت دي .

اکثرا دغه پروژي په لا ندنيو سکتورونوکي شاملي دي :
اوبه، روغتيا سا تنه (۲۵%) ترانسپورت (۲۲%) اوبه لګول ( ۱۷%) بريښنا رسول (۱٦%) ښوونه او روزنه (۱۲%) او نوري پروژي (۲%).



د خياطي پروژه: د روښانه راتلونکي په هيله د ښځو مهارتونه زياتول

## دښوونځيو په لور ددريځی پروژي :

- د ښوونځيو په لورد دريځي پروژي دهغو پروژو له جملو څخه دي چه دملي پيوستون په مرسته دښوونځيو دبيا رغوني او جوړوني په موخه د ولسواليو په کچه را منځ ته شوي د سيمه ايزو يرمختيايي شوراګانو داستازو په ګدون دښوني او روزني اونورو دولتي ادارو دولسواليو ۲۵ کميتي جوړي شوي او هغوي ته ددي لارښونه وشوه چي دښونځيو دبيارغوني او جوړوني څخه سر پرستي وکړي.

د ۲۰۰۸ کال د فبروری تر 18 مي نيټي پوري 38 ښوونځي بشپړاو دپو هني محترم وزارت ته سپارل شويدي همدارنګه د 35 ښوونځيو کار دوام لري .